آصف بهاند ۲۰۱۶/۰۵/۲۶

# بندیز

زما د شګلن ذهن له لويې دښتې

د نا ویلو هیلو

یو ځو سر کښ ماشومان

د ښه ویلو په نیت

په منډه منډه راغلل

خو...

زما د ستوني لوی دهلیز کې

ښه غوغا جوړه وه

ماشومو هیلو، په ماشوم غږ سره

د ښه پوښتنه وکړه

او ښه يې واوریدل دا:

چې د لغاتو ځوانیمرګي دلي

سر په لاسونو وهي

او را وتلای نه شي

۰۰۰ ـ ماسکو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ